# اې د الله رسوله! هيڅ وړه او لويه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمايل: آيا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لايق نشته مګر يوازې يو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا تَرَكْتُ حَاجَّةً وَلَا دَاجَّةً إِلَّا قَدْ أَتَيْتُ، قَالَ: «أَلَيْسَ تَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ؟» ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَإِنَّ ذَلِكَ يَأْتِي عَلَى ذَلِكَ». يو سړی نبي صلى الله عليه وسلم ته راغي نو ويې ويل: اې د الله رسوله! هيڅ وړه او لويه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، هغه وفرمايل: آيا ته ګواهي نه ورکوې چې په حقه د عبادت لايق نشته مګر يوازې يو الله دی او پدې چې محمد د الله رسول دی؟» درې ځلې. هغه «وويل: هو: نو ويې فرمايل: يقينا چې دا په هغې سره له منځه ځي يعنې بخښل کيږي.

[صحيح]

يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: اې د الله رسوله! ما ټول ګناهونه او خطاګانې کړې دي، او هيڅ وړه او غټه ګناه مې نده پرېښې مګر دا چې کړې مې ده، نو آيا ماته بخښنه کيږي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: آيا ته پدې ګواهي نه ورکوې چې له الله تعالى پرته په حقه بل معبود نشته او پدې چې محمد د الله رسول دی؟ درې ځلې يې ورته تکرار کړه، نو هغه جواب ورکړ چې : هو؛ ګواهي ورکوم، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د شهادتينو په فضيلت خبر کړ او دا چې د ګناهونو لپاره کفاره دي، او دا چې په توبې سره مخکني ټول ګناهونه بخښل کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65006

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee